مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۷ د کب ۲۸مه | د ۲۰۱۹ د مارچ ۱۹مه | دویم کال| ۳۵۳مه گڼه

## هېواد

۴ مخ

### نیوزیلنډ

د نیوزیلنډ اته سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد پنځه سلنه ناخالص کورني تولیدات یې هم له همدغه سکټور څخه لاس ته راځي.



### د کندهار پر اړمنو مالدارانو د څارویو د ۱۰۰۰ ټنه خوراکي توکو د وېش لړۍ پیل شوې ده



د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت، د هغه برنامې پر بنسټ چې له وچکالۍ څخه زیانمنو او اړمنو مالدارانو سره د مرستو په پار یې لري، دا ځل د کندهار پر اړمنو مالدارانو او کوچیانو د څارویو د ۱۰۰۰ ټنه خوراکي توکو د وېش لړۍ پیل کړې ده.

د څارویو دغه زر ټنه خوراکي توکي، د کندهار د کرنې ریاست له خوا د دغه ولایت په ۱۱ ولسوالیو کې پر هغو اړمنو مالدارانو او کوچیانو وېشل کېږي، چې اقتصادي وضعیت یې خراب او د خپلو مالونو د تغذیې لپاره خوراکي توکو ته اړتیا لري.

کندهار د هغو ولایتونو له ډلې څخه دی، چې ډېر څړځایونه لري، خو د وچکالۍ له امله اوس دغه څړځایونه په ښه وضعیت کې نه دي.

## افغان سوله؛

# طالبان له خپلو مشرانو سره د بین الافغاني مذاکراتو پر پیل مشورې کوي



۳

### ټاکنې؛ هغه بې خونده سندره چې خلک یې اورېدو ته تیار نه دي

۲ مخ

### د ښځو نړیواله ورځ او په افغانستان کې د ښځو وضعیت

۲ مخ

### څنګه په کم وخت کې ډېر کار وکړو؟

۵ مخ

## علي وزیر: پر ډیورنډ فرضي کرښه اغزن سیم پښتنو ته د منلو نه دی

د پښتون ژغورنې غورځنګ یو تن مخکښ مشر، چې پکتیکا ته راغلی، ویلي پر ډیورنډ فرضي کرښه اغزن سیم پښتنو ته د منلو نه دی.

نوموړي او د وزیرو قوم مشر ډاکتر ګل عالم او ځینو نورو مشرانو د انګور اډې په سرحدي سیمه کې، د پکتیکا د برمل ولسوالۍ له سلګونو اوسېدونکو، قومي مشرانو او مخورو سره کتلي دي.

په دغه لیدنه کې د پي ټي ایم مخکښ فعال، علي وزیر او د وزیرو قومي مشر ګل عالم ویلي، چې پر ډیورنډ فرضي کرښه د اغزن تار غځېدل پښتنو ته د منلو نه دي او باید د تګ راتګ لپاره یې سهولتونه رامنځته شي.

هغوی دغه راز د پکتیکا برمل ولسوالۍ په تازه پېښه کې د وژل شویو عامو ولسي خلکو له کورنیو سره غم شریکي کړې او له افغان حکومته یې د پېښې د دقیقې پلټنې غوښتنه کړې ده.

د علي وزیر هرکلي ته د کرښې له دې غاړې په زرګونو ځوانان او قومي مخور ورغلي وو.

دا په داسې حال کې ده چې پر ډیورنډ فرضي کرښه د پاکستان لخوا د اغزن سیم غځول له ۲۰۱۷ ز کال راهیسې پیل، چې اوسمهال یې د غځولو چارې د بشپړېدو په حال کې دي، خو افغان حکومت د پاکستان د دغه اقدام پر وړاندې چوپتیا غوره کړې او د مخنیوي لپاره یې کوم ګام نه دی اخیستی.

## د امریکا او طالبانو ترمنځ رواني خبرې د بین الافغاني خبرو مقدمه ده



۲ مخ

## وزارت دفاع: سربازانی که به ترکمنستان پناه برده بودند، برگشته‌اند



وزارت دفاع ملی می‌گوید، سربازان سرحدی که از ولسوالی بالامرغاب به ترکمنستان رفته بودند، از طریق بندر تورغندی در هرات دوباره به افغانستان برگشته‌اند.

این وزارت می‌افزاید که در جنگ های بالامرغاب، ۵۸ تن از سربازان دیگر از سوی شورشیان اسیر شده‌اند.

این در حالی است که جنگ‌های اخیر در بالامرغاب، در حدود صد تن از نیروهای سرحدی را به پناه بردن به بخش‌های سرحدی ترکمنستان، وادار کرده بودند.


جنگ‌ها میان نیروهای دولتی و طالبان در ولسوالی بالامرغاب بادغیس، در حدود ۱۱ روز پیش آغاز شدند و در این مدت، از رسیدن تلفات به دو طرف هم گزارش‌هایی پخش شده‌اند.

در آغاز هفته، وزارت دفاع ملی، تصویرهایی را پخش کرد که به گفتهٔ این وزارت، بمباران بخش‌هایی را در بالامرغاب بادغیس نشان می‌دادند که گواه حضور طالبان بودند.

تاکنون، نه وزارت دفاع ملی و نه هم وزارت امور خارجه، دربارهٔ چگونگی پناه بردن این نیروها به ترکمنستان، چیزی نگفته‌اند؛ اما منابع محلی در بادغیس تأیید می کنند که این نیروها پس از اوج گرفتن جنگ‌ها در منطقهٔ مرزی موریچاق ولسوالی بالامرغاب، ناچار شدند که پایگاه شان را ترک کنند.

به گفتهٔ برخی از منابع، شماری از آن نیروهای مرزی که به ترکمنستان پناه برده‌اند، خانواده‌های خودشان را هم که در منطقهٔ موریچاق ولسوالی بالامرغاب به سر می‌برند، به آن سوی مرز انتقال داده‌اند.

SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019




Easy English Learning With Shigal
Admission Open
+93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.
Shigal English Academy
www.shigal.edu.af

## دریځ

### ټاکنې؛ هغه بې خونده سندره چې خلک یې اورېدو ته تیار نه دي

د ټاکنیزو کمېسیونو نوو غړو کار پیل کړی دی، خو نه یې د کوم ولایت د تېرو ټاکنو پایلې اعلان کړې او نه یې هم د ولسمشریزو ټاکنو په برخه کې کوم پرمختګ کړی دی.
ورمه ورځ د ټاکنو کمېسیون یوه غړي وویل، چې ولسمشریزې ټاکنې پر اعلان شوې نېټه نه کېږي او ځنډېږي. وروسته بیا وویل شول چې په دې اړه د کمېشنرانو ترمنځ اختلاف دی. دوی لا نوی کار پیل کړی، خو نه ښه پیل لري او نه هم پر چارو توافق او ګډ نظر.
د کمېسیون یو وياند بیا پرون ویلي، چې دوی به ژر د ولسمشریزو ټاکنو لپاره مهالوېش اعلان کړي.
حکومت ټینګار کوي چې ولسمشریزې ټاکنې به کېږي. که څه هم ټاکنې ځنډېدلې او ځنډېږي، خو حکومت بیا بیا دا خبره کوي چې ټاکنې به حتمي کېږي. حکومتي چارواکي په ظاهره د اساسي قانون د عملي کولو خبره کوي، خو ټول پوهېږي چې دوی له سولې وېرېږي او فکر کوي چې دوی بیا ټاکنې ګټي، خو که سوله وشي، نو دوی واک نه شي غځولی. له همدې امله واکمن چارواکي غوره ګڼي، چې د سولې پر ځای ټاکنې وشي. که څه هم دوی وایي چې سوله او ټاکنې دواړه کېدای شي او دوی دواړه غواړي، خو ټول پوهېږي چې که ټاکنې کېږي، نو دا د سولې پر وړاندې یو خنډ جوړوي. د حکومت سیاسي مخالفین هم ځینې پر ټاکنو ټینګار کوي، خو ځینې یې بیا وایي چې زموږ لپاره سوله لومړیتوب لري او پکار ده چې ټول تمرکز پر سوله وي.
خلک بیا غوره ګڼي چې ټاکنې ونه شي او سولې ته کار وشي. خلک په دوو دلایلو د دغه کار غوښتنه کوي. لومړی دا چې سوله افغانانو ته لومړیتوب دی او د دې لپاره ډېرې قربانۍ ته تیار دي. خلکو ته ټاکنې او اساسي قانون مهم دی، خو که سوله راځي او اساسي قانون تر پښو لاندې کېږي او یا هم ټاکنې نه کېږي، نو خلک ستونزه نه لري او د سولې ملاتړ کوي. خلک پر دې هم پوهېږي چې ټاکنې سولې ته خنډ جوړوي، ځکه نوی ولسمشر به ځان پنځه کاله قانوني ګڼي او حاضر به نه وي چې د سولې لپاره واک ووېشي او یا هم له خپلې څوکۍ تېر شي. دویم لامل دا دی چې خلک له ټاکنو ستړي دي. زموږ ټولې ټاکنې له فساد، درغلۍ او ستونزو ډکې وې. د ۲۰۱۴ ز کال ټاکنو خلک لا زړه توري کړل او څو میاشتې وړاندې چې د ولسي جرګې ټاکنې وشوې، نو خلک د ټاکنو په اړه لا زیات بدبینه شول. خلک پر دې هم پوهېږي چې په افغانستان کې ټاکنې مسخره دي، ځکه له یوه اړخه نیم افغانستان له طالبانو سره دی او له بله اړخه په نیم افغانستان کې ټاکنې د حکومت، زورواکو، مفسدینو او درغلګرو په خوښه کېږي او پایله یې هم د هغوی په ګټه وي. له همدې امله خلک نه غواړي په داسې ټاکنو کې برخه واخلي.
ټاکنې اوس په یوه بې خونده سندره بدلې شوې، چې خلک یې اورېدو ته تیار نه دي. دا د دې مانا هم نه لري چې خلک یو مخ له ټاکنو سره وران دي. خلکو ته سوله لومړیتوب دی او له سولې وروسته ټاکنې اصلي مانا هم پیدا کوي. هغه وخت بیا موږ ازادې، خپلواکې او سراسري ټاکنې هم کولی شو، نو ځکه خلک غوره ګڼي چې ټاکنې ونه شي او تمرکز پر سوله وي.

# د ښځو نړیواله ورځ
## او په افغانستان کې د ښځو وضعیت

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د مارچ اتمه د ښځو نړیوالې ورځې په نوم نومول شوې او دغه ورځ هر کال د نړۍ په زیاترو هېوادونو کې نمانځل کېږي. د نورو هېوادونو په شان هر کال په افغانستان کې هم دغه ورځ، په ځانګړې توګه په دولتي ادارو کې د چارواکو له لوري او د ښځو د ملاتړ په نوم د مختلفو بنسټونو له لوري، ښه ګرمه نمانځل کېږي.
سږ کال هم د ښځو نړیواله ورځ په افغانستان کې داسې مهال ونمانځل شوه، چې د ملګري ملتونو (دا ملکي تلفاتو) په اړه د یوناما د کلنې راپور پر بنسټ، یوازې په ۲۰۱۸ ز کال کې ۱۱۵۲ ملکي ښځو ته د جګړې له امله مرګ‌ژوبله اوښتې وه. پر جګړه سربېره بېوزلي، اعتیاد، بې‌سوادي، بشري تاوتریخوالی او دې ورته ډېر نور هغه موارد دي، چې په افغانستان کې یې د ښځو ژوند له ډېرو ستونزو سره مخ کړی دی.
په افغانستان کې د ښځو د ملاتړ په نوم بېلابېل بنسټونه فعال دي، خو ډېری یې د پروژو تر کچې دي او په یوه محدوده دایره کې فعالیت کوي. په بل اړخ کې بیا د افغانستان په ډېری کلیو او بانډو کې ښځې لا هم په سخت وضعیت کې ژوند کوي او د ژوند له لومړنیو اسانتیاوو بې‌برخې دي.
دلته مو په افغانستان کې دښځو د وضعیت پر رښتیني انځور، د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالي او د دغه تاوترخوالي پر لاملونو بحث کړی دی.

**د افغان دولت په جوړښت کې د ښځو ونډه**

د افغانستان د احصاییې مرکزي ادارې د ټولنیزو او ډیموګرافیکي احصایو د ریاست د معلوماتو له مخې، په ۱۳۹۶ لمریز کال کې د افغانستان نفوس ۲۹.۷ میلیونه تنه و، چې له دې ډلې ۱۴.۵ میلیونه یې ښځینه او پاتې نور یې نارینه دي.
له ۲۰۰۱ ز کال وروسته د نوي نظام په رامنځته کېدو سره، د ښځو د وضعیت د ښه والي په موخه هڅې وشوې. د نوي نظام په رامنځته کېدو سره د نجونو پرمخ ښوونځي او پوهنتونونه پرانیستل شول او په دولتي ادارو کې یې د جذب پروسه ورځ تر بلې زیاته شوه.
د پوهنې وزارت د معلوماتو پر بنسټ، په ۱۳۹۶ لمریز کال کې د ښوونځیو د زده کوونکو شمېر نهه میلیونه او ۳۸۹ زره کسانو ته رسېده، چې له دې ډلې شاوخوا درې میلیونه او ۵۶۴ زره یې نجونې وې. دغه راز د احصاییې مرکزي ادارې د معلوماتو پر بنسټ، په ۱۳۹۶ لمریز کال کې په ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونو کې ۳۶۹۳۱۷ کسانو زده کړې کولې، چې له دې ډلې یې ۹۱۸۲۶ ښځینه وې.
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د معلوماتو پر بنسټ، اوسمهال په امریکا متحده ایالتونو، تاجکستان، سویس او ناروې هېوادونو کې د افغان دولت د سفارتونو په رأس کې ښځې دي. همدارنګه د افغان دولت په اوسنۍ کابینه کې هم درې وزارتونه د ښځو له لوري رهبري کېږي او لس نورې ښځې په بېلابېلو وزارتونو کې معیناني دي. تازه د ټاکنو د دواړو کمېسیونونو ریاستونه هم دوو ښځو ته سپارل شوي دي. د افغانستان د پارلمان په شپاړسمه تقنیني دوره کې هم د ښځو ونډه حتی د سیمې او نړۍ د ځینو پرمختللو هېوادونو (فرانسې، هند، روسیې، جاپان او پاکستان) په پرتله زیاته وه. پر دې ټولو سربېره، په اوسني نظام کې د افغان دولت په ټولو ملکي او نظامي ادارو کې ډېرې ښځې پر دندو بوختې دي.

**د افغان ښځو وضعیت**

افغانستان هغه سنتي او مذهبي ټولنه ده، چې لا هم د دغه هېواد په ډېری سیمو کې د ښځو له لوري د میراث غوښتل یو ستر عیب ګڼل کېږي. له همدې یوې بېلګې ډېر واضح ښکاري، چې په افغاني ټولنه کې د بې‌سوادۍ او کم‌سوادۍ له کبله د افغانستان د نفوس یوه لویه برخه له خپلو طبیعي او اسلامي حقونو څخه محرومه ساتل شوې ده.
په تېرو ۱۸ کلونو کې د ښځو د وضعیت د ښه‌والي لپاره د افغان دولت په چوکاټ کې د ښځو چارو وزارت په نوم، یو ځانګړی وزارت رامنځته شو. د ښځو د ملاتړ په نوم لسګونه ټولنې فعالې شوې، نړیوالې ټولنې هم د ښځو د وضعیت د ښه والي په نوم په میلیونونو ډالر مصرف کړل. دغه‌راز له ښځو د ملاتړ او د دوی د بشري حقونو په نوم ځینې قوانین هم تصویب شول؛ خو له دې ټولو سره سره، لا هم په افغانستان کې ښځې له سختو ستونزو او تاوتریخوالي سره لاس او ګرېوان دي.
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د معلوماتو پر بنسټ، په ۱۳۹۴ لمریز کال کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۵۱۳۲ پېښې ثبت شوې وې. په دغه کال کې د فرخندې زړه بوږنوونکې پېښه وشوه، چې د ارګ په څو کیلومترۍ کې د قران کریم د بې‌حرمتۍ په تور د لسګونو کسانو لهخوا په عام محضر کې ووهل شوه او د زیاتو وهلو له کبله ووژل شوه، بیا موټر پرې وخېژول شو او بیا وسوځول شوه. په ۱۳۹۵ لمریز کال کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۵۵۷۵ پېښې ثبت شوې وې؛ خو دغه کچه په ۱۳۹۶ لمریز کال کې راکمه شوې وه او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۴۳۴۰ پېښې ثبت شوې وې. دا ټولې هغه پېښې دي، چې د حکومت تر کنټرول لاندې سیمو په ځانګړې توګه په ښارونو کې ثبت شوې دي، په داسې حال کې چې د افغانستان نږدې نیمه خاوره د وسله‌والو مخالفینو تر کنټرول لاندې ده او په دغو سیمو کې د ښځو د وضعیت په اړه معلومات نشته.
د ښځو د ملاتړ په نوم چې کوم لګښتونه کېږي، ډېری یې په ښارونو پورې محدود دي، په داسې حال کې چې د افغانستان ۲۱.۱ میلیونه وګړي کلیوالي خلک دي.
په روانو حالاتو کې په ښارونو کې ځینې ښځې د "ډیموکراسۍ" او "بیان ازادۍ" په نوم ورځ تر بلې له خپلو دیني او ملي ارزښتونو څخه فاصله اخلي او په دې برخه کې د افراط قرباني شوې ښکاري. ښځې د ښارونو دننه د "ډیموکراسۍ" او "بیان آزادۍ" تر سیوري لاندې په بېلابېلو ډولونو د جنسي ځورونو او بشري تاوتریخوالو سره مخ دي. پیک څېړنیز مرکز، د یوې څېړنې په پایله کې ویلي چې د افغانستان په نظامي بنسټونو کې له هرو پنځو ښځو څلور یې د خپلو همکارانو له لوري له جنسي ځورونې سره مخ دي.
له ښاره لرې په کلیوالو سیمو کې ښځې بیا تر ډېره له خپلو بشري او اسلامي حقونو څخه بې‌برخې دي. په بدو کې د ښځو ورکړه، په کم عمر ودونه، کورنی تاوتریخوالی، له زده کړو لرې‌والی، روغتیایي اسانتیاوو ته نه لاس‌رسی، د کور دننه او بهر د سختو او درنو کارونو ترسره کول او دېته ورته ډېر نور هغه موارد دي، چې په ډېری کلیوالو سیمو کې ښځې ورسره مخامخ دي او د دوی پر ژوند یې منفي اغېز کړی دی.

**پایله**

په افغانستان کې له څلورو لسیزو راهیسې روانې جګړې د نورو افغانانو په شان د ښځو پر ژوند او وضعیت هم خورا منفي اغېز کړی دی؛ جګړې لسګونه زره ښځې کونډې او بورې کړې، خپل کورونه او هستۍ یې ترې واخیستې، د خپل ځان او بچو لپاره د یوې مړۍ ډوډۍ پیدا کولو لپاره یې خیرات غوښتلو او سختو کارونو ته مجبوره کړې دي.
پر دې سربېره، د افغانستان په جګړه ځپلې ټولنه کې، ښځو ته د اسلام په سپېڅلي دین کې له ورکړل شوو حقونو څخه ناخبري، جهالت او ناپوهي، پر ټولنه د پردیو فرهنګونو اغېزې، فساد، قانون ته نه درناوی او دېته ورته نور هغه څه دي، چې په افغانستان کې یې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي پېښې زیاتې کړې دي.
په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د کمولو لپاره اړتیا ده، چې د ښځو د ملاتړ په نوم د نړیوالې ټولنې او افغان دولت له لوري میلیونه ځانګړې شوې پیسې په رښتیني توګه د ښځو د وضعیت د ښه‌والي لپاره ولګول شي، نه دا چې یوازې په ښارونو کې د شعاري غونډو او ځینو بې‌ګټو پروژو پر تطبیق ولګول شي. اړتیا ده چې د ښځو د ملاتړ لپاره په خپله ټولنه کې د ښځو د بشري او اسلامي حقونو په اړه خلکو ته پوهاوی ورکړل شي، له ښځو سره د تاوتریخوالي لاملین محاکمه شي او د هېواد په لرې پرتو سیمو کې ښځو ته لومړنیو بشري اسانتیاوو ته د لاس‌رسي زمینه برابره شي.

## د سولې عالي شورا: د کډوالو استازي به هم د سولې په مشورتي لویه جرګه کې ګډون وکړي



د سولې عالي شورا ویلي، په پلان کې ده چې په ایران کې د افغان کډوالو استازي هم د سولې په اړه مشورتي لویه جرګه کې، چې ټاکل شوې د راتلونکي ۱۳۹۸ کال د ثور پر نهمه جوړه شي، ګډون وکړي.
د دې شورا د دارالانشا مشر عمر داوودزي دغه څرګندونې په ایران کې د افغانستان په سفارت کې د افغان کډوالو له استازو سره په لیدنه کې کړې دي.
د سولې شورا ویاند سید احسان طاهري امریکا غږ ته ویلي: «له هغوی څخه مو وغوښتل چې سر له اوسه په ایران کې د افغان کډوالو له ټولنو او غړو سره خبرې وکړي، تر څو په نږدې راتلونکي کې په لویه جرګه کې د غړو د عضویت په اعلان سره وتوانېږو، چې په دغه جرګه کې په ایران کې د افغان کډوالو استازي هم ولرو».
د طاهري په خبره، دویم ګام په تهران کې د افغان کډوالو د استازو ترمنځ ټاکنې دي، چې د خپلو استازو تر ټاکل کېدو وروسته د سولې په اړه مشورتي لویه جرګه کې ګډون وکړي او خپلې غوښتنې او وړاندیزونه شریک کړي.
نوموړي دغه راز زیاته کړې، چې د پلان له مخې به په ایران کې د افغان کډوالو د استازو ترځنګ، په پاکستان کې د مېشتو افغان کډوالو استازي هم په مشورتي لویه جرګه کې ګډون وکړي.
دا په داسې حال کې ده چې د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، دا مهال ۲.۴ میلیونه افغان کډوال په ایران او ۲.۴ میلیونه نور په پاکستان کې د کډوالۍ ژوند کوي.
د سولې عالي شورا تر دې مخکې ویلي وو، چې د سولې په اړه مشورتي لویه جرګې کې به له دوو زرو څخه زیات کسان ګډون وکړي، چې ۳۰ سلنه به یې ښځې وي.
د سولې په اړه د مشورتي لویې جرګې په اړه ولسمشر غني ویلي وو، چې افغان حکومت به د لویې جرګې د پرېکړې په رڼا کې د سولې کړنلاره ترتیب او په عملي کولو کې به یې هڅه وکړي.

## عبدالله: د امریکا او طالبانو ترمنځ روانې خبرې د بین الافغاني خبرو مقدمه ده



اجرایه رییس عبدالله عبدالله د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې د بین الافغاني خبرو مقدمه بللې او ویلي یې دي، چې د سولې اصلي پروسه هغه مهال پیلېږي چې افغانان خپلو کې سره خبرو ته کېني.
نوموړي دغه څرګندونې تېره ورځ د کابل په بادام باغ سیمه کې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د «سولې او سمسورتیا» په نوم د نیالګیو کېښودلو ملي کمپاین د پیل په مراسمو کې کړې دي.
هغه ویلي چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې اوسنۍ خبرې د سولې د بین الافغاني خبرو لپاره یوه مقدمه ده او د سولې اصلي پروسه به هغه مهال پیل شي، چې افغانان په خپلو کې سره کېني او د خپل هېواد د راتلونکي په اړه خبرې وکړي.
عبدالله زیاته کړې، سره له دې چې سږ کال په افغانستان کې ځینې ناخوالې هم وې، خو د سولې خبرې، د ولسي جرګې په ټاکنو کې د خلکو پراخ ګډون او د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره چمتووالی د سږ کال لاسته راوړنې دي.
دا په داسې حال کې ده چې د ولسي جرګې ټاکنې د تلې په میاشت کې شوې، خو په دغو ټاکنو کې د پراخو درغلیو راپورونه شته او تر اوسه یې د شاوخوا نیمایي ټاکنیزو حوزو پایلې نه دي اعلان شوې.
بلخوا د کرنې او مالدارۍ وزیر نصیراحمد دراني هم په دغه غونډه کې ویلي، چې یاد کمپاین د هوا د ککړتیا د مخنیوي او سمسورتیا په موخه پیل شوی دی. ده له ټولو هېوادوالو غوښتي چې د نیالګیو کېنولو تر څنګ، د نیالګیو ساتنه هم وکړي.
د کرنې او مالدارۍ وزارت د طبیعي سرچینو رییس محمد رفیع قاضي زاده ویلي، چې دغه وزارت سږ کال د هېواد په کچه دوه میلیونه زینتي نیالګي دولتي ادارو او ځینو ټولنو ته د کېښودو لپاره وېشلي دي.
قاضي زاده ویلي چې له دغو نیالګیو تر ۳۷۰ زره زیات د کابل ښار په وزیر اکبر خان، مرنجان، قصبې، قرغې، بادام باغ او نورو سیمو کې کېښودل شوي دي.
هغه زیاته کړې چې شاوخوا شل میلیونه نور زینتي نیالګي هم له دغه وزارت سره همکارو موسسو د کېښودو لپاره چمتو کړي دي.

## افغان سوله؛
# طالبان له خپلو مشرانو سره د بین الافغاني مذاکراتو پر پیل مشورې کوي



وسله والو طالبانو له امریکا سره تر خبرو او ځینو لومړنیو هوکړو وروسته، اوس د بین الافغاني مذاکراتو د پیل لپاره تیاری پیل کړی دی. د راپورونو له مخې، طالب مشران دمګړی په دې اړه په سلا مشورو لګیا دي، چې بین الافغاني مذاکرات څه ډول او له کومه ځایه پیل کړي. بل پلو د سولې عالي شورا بیا وایي چې د افغانستان روانه جګړه د بین الافغاني مذاکراتو پر مټ د حل وړ ده او طالبانو ته پکار ده، چې له افغانانو سره مخامخ خبرو ته تیاری ونیسي.

وروسته له دې چې د طالبانو او امریکا ترمنځ په شپاړس ورځنیو مذاکراتو کې پر ځینو مسایلو لومړنۍ هوکړې رامنځ ته شوې دي، اوس دغه ډله پر دې لګیا ده چې څه ډول بین الافغاني مذاکرات پیل کړي. وسله والو طالبانو ته نږدې سرچینو رسنیو ته ویلي، چې د دوی مشران د بین الافغاني مذاکراتو پر څرنګوالي بحثونه پیل کړي دي او موخه یې دا ده، چې د افغانانو ترمنځ خبرو ته زمینه برابره کړي.

طالبانو ته نږدې سرچینې وایي، د امریکا او طالبانو ترمنځ په راتلونکې غونډه کې د قطر د تېرې غونډې پر توافقاتو لاسلیکونه کېږي او له دې امله چې یاد توافقات نهایي دي، اوس طالبانو له خپلو مشرانو سره د بین الافغاني مذاکراتو په تړاو سلا مشورې پیل کړې دي. د سرچینې په خبره، تر اوسه د طالبانو دغه سلا مشورې نهایي نه دي، چې راتلونکې ناسته کې به له حکومتي استازو سره خبرې وکړي او که نه.

بل پلو د دوحې د راتلونکې غونډې ګډونوال ملا عبدالسلام ضعیف وایي، طالبان له امریکا سره هوکړې لاسلیکوي او اوس د بین الافغاني مذاکراتو لپاره سلا مشورې روانې دي. ضعیف ویلي: ((طالبان به هم له خپلو مشرانو سره سلا مشورې کوي، دغه راز افغان حکومت به هم له سیاسیونو او خلکو سره خبرې کوي. له سلا مشورو وروسته به هر لوری خپله پرېکړه کوي)).

بل پلو د مسکو بین الافغاني خبرو دویمې ناستې په تړاو ویل کېږي، چې دغه ناسته به د اپرېل پر لسمه په قطر کې جوړه شي او ټاکل شوې چې په دې ناسته کې به د افغان سیاستوالو یو لوی هیئت هم ګډون وکړي. د ولسي جرګې غړی عرفان الله عرفان وایي، دغه غونډه د افغانستان لپاره مهمه ده، خو په اړه یې ځینې اندېښنې شته دي. عرفان زیاتوي: ((د سولې له خبرو دې افغان حکومت او افغانان خبر وي. دوی ته باید معلومات ورکړل شي او په دې توګه دې شفافیت رامنځ ته شي. دا د افغانستان د حکومت او افغانانو لپاره مهمه ده)).

بل پلو د سولې عالي شورا بیا وایي، چې د افغان سیاستوالو او طالب استازو ترمنځ د بین الافغاني خبرو په دویمه ناسته کې، د ګډون لپاره باید حکومت خپل استازي مشخص کړي. د سولې عالي شورا غړی عبدالحکیم مجاهد وایي، هیله لري چې افغان حکومت د مذاکراتو په دې پړاو کې ګډون وکړي.

د بین الافغاني مذاکراتو د پیل په اړه داسې مهال د سلا مشورو د پیلولو خبره کېږي، چې ټاکل شوې په راتلونکې میلادي میاشت کې د طالبانو او امریکا ترمنځ د خبرو شپږم پړاو پیل شي. تېره ورځ طالب سرچینو رسنیو ته ویلي وو، چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د خبرو شپږم پړاو د راتلونکې میلادي میاشتې په لومړیو کې ترسره کېږي.

ټاکل شوې چې د خبرو په دغه پړاو کې به رامنځ ته شوې مسوده لاسلیک شي او عملاً به د جګړې د پای او مذاکراتو د دوام لپاره ګامونه اوچت کړل شي. افغان حکومت لا هم ټینګار کوي چې د سولې خبرې باید د افغانانو ترمنځ او د افغانانو په مشرۍ ترسره شي، خو طالبان وایي چې تر هر څه لومړی باید د جګړې بهرنی اړخ له منځه یوسي.

## ټیفا: که د ولسمشریزو ټاکنو په مهالوېش کې بدلون راشي، دغه ټاکنې به راتلونکی کال ترسره نه شي



پر ټاکنو څارونکي بنسټونه وایي، که د ولسمشریزو ټاکنو په مهالوېش کې بدلون راشي، دغه ټاکنې به سږ کال ترسره نه شي.

د دغو بنسټونو په خبره، سږ کال د ولسمشرۍ ټاکنې د ټاکنو کمېسیون د غړو ترمنځ د اختلافونو او د دغه کمېسیون د ناسم مدیریت په لانجو کې پاتې دي.

د شفافو ټاکنو بنسټ یا ټیفا رییس محمدنعیم ایوب زاده ازادي راډیو ته ویلي، که په دغه کمېسیون کې د پروګرامونو نشتوالی همداسې دوام وکړي، ولسمشریزې ټاکنې به په راتلونکي کال کې هم ونه شي.

نوموړي ویلي: «په کمېسیون کې اوس هم فاسد کسان شته او له نویو غړو سره کار کوي، د دوی د مدیریتي رهبرۍ ځانګړتیاوې په پام کې نه نیسي او د تاخیر مسئله مطرح کوي. دغه نوی ټیم د دې پر ځای چې راتلونکي ته مو هیله من کړي، بلکې د انتخاباتو د ترسره کېدو په اړه یې ناهیلي کړي یو. له دې امله سخت اندېښمن یو چې که وضعیت همداسې دوام وکړي، انتخابات به په روان میلادي کال کې ناممکن شي.»

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي وو، چې د ولسمشر له خوا د ټاکنو د قانون له تعدیل سره باید پروګرامونه له سره طرحه شي.

د دغه کمېسیون په خبره، په راتلونکو ورځو کې به د ولسمشریزو ټاکنو د مهالوېش نوی جدول اعلان کړي، خو پر ټاکنو څارونکي بنسټونه وایي، دغه کمېسیون تر اوسه نه دی توانېدلی چې په وروستیو څو ورځو کې خپل کارونه په سمه توګه تنظیم کړي. دوی دغه راز ټینګار کوي چې د ولسمشریزو ټاکنو د وروسته کولو لپاره باید بهانې ونه لټول شي.

پر دې سربېره، په کمېسیون کې د فاسدو کسانو شتون او د حکومت مداخلې هغه څه دي، چې ایوب زاده پرې نیوکې کړې، خو ولسمشرۍ ماڼۍ بیا دغه څه رد کړي دي.

په ورته وخت کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون په خپلو چارو کې د پرمختګ خبرې کوي او وایي، دا چې د ولسمشریزو ټاکنو په مهالوېش کې دې بدلون راشي، هغه څه دي چې خبرې پرې روانې دي.

د دغه کمېسیون ویاند ذبیح سادات ویلي، تر راتلونکو څو ورځو پورې به د ټاکنو نوی مهالوېش روښانه شي.

هغه زیاته کړې: «داډ چې موږ یې درکولای شو، دا دی چې ان‌شاالله انتخابات په راتلونکي کال کې کېږي، تاسې پوهېږئ چې له مهالوېشه ۱۷ ورځې وروسته شوي یو، د نوم لیکنې لپاره یوه نوې نېټه ځانګړې کېږي».

سادات ټینګار کړی چې کمېسیون هڅه کوي، څو ټاکنې په راتلونکي کال کې له ټاکلې نېټې سره سمې وشي، خو دا چې د ولسمشریزو ټاکنو د مهالوېش له پلي کېدو ۱۵ ورځې وروسته پاتې شوي، په اړه به یې په څو ورځو کې له څارونکو بنسټونو او ګوندونو سره مشورې ترسره او تصمیم به ونیول شي.

## پکتیاوال: په پکتیا کې دې رغنیزې پروژې د کال له سره پیل شي



د پکتیا ولایت اوسېدونکو نیوکه کړې چې په تېرو کلونو کې په دغه ولایت کې رغنیز کارونه او پروژې په ځنډ پیل شوي او بیا د هوا د سړېدو له امله یې چارې په نیمایي کې پاتې شوې.

دوی ویلي، دا چې پکتیا سوړ ولایت دی او اوږد ژمی لري، نو باید رغنیز کارونه پکې د کال له سره پیل شي، څو پر وخت او سم ډول پای ته ورسېږي.

د پکتیا د ولایتي شورا غړي محمدرحمن قادري ویلي، چې پر وخت د پروژو سرته رسېدو لپاره باید په کاري موسم کې د شپې او ورځې له مخې کار وشي.

قادري د رغنیزو چارو په ځنډ د پیل تر څنګ، د پروژو پر کیفیت هم نیوکه کړې او وایي چې داسې پروژې بېرته ډېرې ژر له منځه ځي.

نوموړي ویلي: «هر کال هسې یې پر نوم خلک غلطوي، پروژه افتتاح کېږي او بیا پر هغې ژمی راځي او پروژې ناقصې پاتې کېږي. د سړې هوا ضد مواد نه پکې اچول کېږي او کیفیت یې له منځه ځي. له داسې پروژې نه چې هېڅ پروژه ونه شي، موږ لپاره بهتره ده».

په ورته وخت کې د دغه ولایت قومي مشر ظاهر اوریاخېل پر مرکزي ادارو نیوکې کړې، چې تر اوسه یې د ولایتونو هوا ته په کتو، د پروژو او کارونو په تنظیم او پیل کې پاتې راغلې، خو په خبره یې په نوي کال کې باید په دې برخه کې عملي اقدام وشي.

اوریاخېل پژواک ته ویلي: «پکتیا ټولو ته معلومه ده چې سوړ ولایت دی. دلته څلور، پنځه میاشتې واورې او بارانونه وي او چې کومې پروژې راځي، هغه واقعاً د کال په نیمایي کې شروع کېږي، چې کارونه یې بیا نیمګړې پاتې شي، نه خلکو ته خدمت وشي او نه کار.» بل لور ته د پکتیا والي شمیم خان کټوازي هم د کارونو ناوخته پیل د چارو پر وړاندې ستونزه بللې، خو ویلي یې دي چې همدې ته په کتو یې ځینې پروژې له مخکې تنظیم او افتتاح کړې او په راتلونکو څو ورځو کې به یې کارونه پیل شي.

## راپورونه: د ناټو ۲۴ غړو هېوادونو او ګرجستان په ګډه پوځي تمرینونه پیل کړي دي

د ناټو د ۲٤ غړو او متحدو هېوادونو شاوخوا ۳۵۰ پوځیانو په ګرجستان کې ګډ پوځي تمرینونه پیل کړي دي.

د راپورونو له مخې، تبلیسي ته نږدې د ناټو او ګرجستان د ۲۰۱۹ ز کال د تمرینونو په نوم دغه تطبیقات به ۱۱ ورځې دوام وکړي.

ناټو په یوه اعلامیه کې ویلي، چې دغه تمرینونه د ناټو او ګرجستان د پوځي او سیاسي همکارۍ د غښتلتیا لپاره ډېر اړین بلل کېږي.

د راپورونو له مخې، ټاکل شوې چې د ناټو سرمنشي ینس سټولټنبرګ هم د دغو تمرینونو پر مهال ګرجستان ته لاړ شي او دی به په دغو تمرینونو کې برخه واخلي او د دې تر څنګ به د ګرجستان له مشرانو سره هم وګوري.

د ګرجستان دفاع وزارت هم ویلي چې په دغو پوځي عملیاتو کې د متحده ایالتونو، فرانسې، برېټانیا، جرمني او ترکیې په ګډون، د ناټو ۲۰ هېوادونه برخه لري.

د ګرجستان د دفاع وزارت مرستیال للا چیکوواني د دغو تمرینو د پیل مراسمو پر مهال ویلي: «د ناټو- ګرجستان ترمنځ د پیل شوو تمرینونو موخه یوازې د دغه هېواد د دفاعي وړتیاوو پیاوړي کېدل دي، نه د کوم دریيم هېواد پر ضد».

د ګرجستان او ناټو د دغو عملیاتو د پیل کېدو په اړه روسیې تر اوسه کوم غبرګون نه دی ښودلی، خو تر دې وړاندې یې ویلي، چې د ناټو هر پاروونکی اقدام به بې ځوابه پاتې نه شي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د ناټو او روسیې ترمنځ د کرېمیا ټاپووزمې په بېلېدو او ځینو نورو نړیوالو مسایلو اړیکې د بل هر وخت په پرتله ترېنګلې شوې دي.

په ورته وخت کې د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین تېره ورځ د کریمیا سیمې ته رسېدلی دی. ویل کېږي چې نوموړی به د هغه څه په پنځمه کلیزه کې برخه واخلي، چې مسکو یې له روسیې سره د تور سمندرګي د دې ټاپووزمې یو ځای کېدل ګڼي، خو کیيف او غربي قدرتونو له روسیې سره د کریمیا یو ځای کېدل غیر قانوني بللي دي.

دا مسئله د دې سبب شوه چې پر ځینو روسي اشخاصو او شرکتونو بندیزونه ولګول شي. پوتین دغه راز تېره ورځ په سیواستیپول او سیم فیریپول ښارونوکې دوه برېښنا کوټونه هم پرانیستل.

دغه برېښناکوټونه تېر کال په ابتدایي ډول پرانیستل شوي وو، خو رسمي پرانیسته یې تېره ورځ وشوه.

## د کتـاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

- لیکوال: دوکتور ډیوېډ شوارتز
- ژباړن: میـراحمد یـاد

**اووم څپرکی**

**خپل چاپېریال اداره کړئ**




یا داسې وگنئ څو عادي کسانو ته وایئ چې زه د پنځوس زرو ډالرو کور پېرم، هغوی به هم وایي چې دا کار خو نه کېږي، در پورې وبه خاندي، خو که خپل پلان داسې کس ته ووایئ چې د پنځوس زرو ډالرو کور کې اوسېږي، نو هغه نه حیرانېږي، هغه پوهېږي چې دا کار کېږي، ځکه خپله یې کړی دی.

دا یاد ساتئ: څوک چې درته وایي دا کار نه کېږي، دوی خپله ناکام دي، دوی د گټورتیا له پلوه عادي یا په ټیټه کچه کې دي. د دې خلکو نظریات زهر دي. کوم خلک چې تاسې په خپلې کمزورۍ قانع کوي، د ځان دفاع ترې وکړئ. د دې خلکو نصیحتونه یوازې په دې خاطر یاد ساتئ چې تاسې یې ناسم ثابت کړئ.

دېته ډېر زیات پام کوئ: مه پرېږدئ چې منفي گرا (منفي) خلک ستاسې د بري پلان درخراب کړي. منفي خلک په هر ځای کې شته او داسې ښکاري چې دوی د نورو خلکو د بریالیتوب د پلانونو ناکامولو ته خوشالېږي.

د پوهنتون په دوره کې څو سمستره(و.و) سره ملگری شوم، ښه ملگری و. داسې ملگری و چې د تنگسۍ پر وخت به یې یو څو غیرانه پور درکاوه یا به یې درسره مرسته کوله. خو له دې ټولو ښېگڼو سره سره بیا هم د ژوند او راتلونکو فرصتونو په اړه سل په سلو کې بدبینه او منفي گرا و.

په هماغه وخت کې به ما د ورځپاڼو یو څو کالم لیکوال ډېر منظم لوستل، دوی به د ژوند فرصتونه او مثبت ذهنیت تبلیغاوه. (و.و) به چې زه د دې پاڼو په لوستو ولیدم یا به په خبرو کې دا موضوع رایاده شوه، نو دستي به یې راته وویل:

(خدای ته وگوره یاره! لومړی مخ ولوله، ژوند هلته زده کېږي. دومره خو به ته هم پوهېږې چې د دې پاڼو لیکوال هسې خلکو ته سره و شنه باغونه ښیي او پیسې ترې وهي.)

د ژوند د پرمختگ موضوع به چې راغله، ده به پکې سمدستي خپلې د پیسو گټلو درې طریقې را واچولې چې:

(گوره ډېوېډه، د مالداره کېدو یوازې درې لارې دي:

1) کومه شتمنه نجلۍ وکړه.
2) ښایسته، پاکه او قانوني غلا وکړه.
3) سم خلک وپېژنه، چې ښه زور لري.)

ده به تل د خپلې طرحې په دفاع کې بېلگې راوړلې. تل به له لومړۍ پاڼې لگیا و، چې د مزدورانو د یوې ډلې مشر، له مالي صندوقه پیسې وهلې او ورک دی. یا به یې یو نیم داسې فرصت طلبه ته سترگې نیولې وې، چې د پیسو لپاره به یې له ښځې سره واده کړی و. یا به ده داسې یو کس پېژانده چې هغه به یو بل زورور کس پېژانده او ده ته به یې په یوه لویه سودا کې برخه ورکړې وه.

(و.و) له ما څو کاله مشر و، په انجینرۍ کې و او ښې نومرې به یې اخیستې. ما به ورته تل د خپل مشر ورور په سترگه کتل او خپله الگو به مې باله، خو په ځان پوهېدم چې د بري لپاره د خپلو اصولو پرېښودو او د منفي خلکو فلسفې منلو ته نږدې شوی یم.

له ښه مرغه یو ماسپښین مې (و.و) سره اوږد بحث وکړ او په ځان پوه شوم، چې زه ناکام غږ ته غوږ وم. داسې راته ښکارېده چې (و.و) دومره ما خپله فکر ته نه هڅوي، لکه څومره چې خپل ځان قانع کوي. له دې وروسته راته (و.و) یوه منفي بېلگه شو، تجربه مې پرې کوله. له ځان سره مې وویل چې نور به یې نظریات نه منم، بلکې مطالعه کوم به یې. ما ویل په دې پوه شوم چې دا ولې داسې فکر کوي او د دې فکر انجام به یې څه وي. خپل منفي گرا ملگری مې ځانته د عبرت یو درس وټاکه.

ما دا یوولس کاله کېږي چې (و.و) نه دی لیدلی، خو زموږ یوه بل ملگري څو میاشتې مخکې لیدلی و، ویل یې چې واشنگټن کې په ټیټ معاش د نقشو جوړولو کار کوي. ما ورته وویل چې بدل شوی دی که نه؟

ویل یې: (تر پخوا ډېر منفي گرا شوی دی. څلور بچي یې دي، معاش یې ټیټ دی، ژوند یې نور هم سخت شوی. دا که پوهېدی له خپلې وړتیا به یې کار اخیستی و، په دې اوسني استعداد یې پنځه چنده معاش پیدا کولای شوی.)

منفي خلک هر ځای کې وي. ځینې یې لکه زما (و.و) ملگری بد نیت نه لري، خو ځینې نور یې ډېر بدنیته وي، دوی خپل حالت هم نه ښه کوي او د نورو د پرمختگ مخه هم نیسي. خپله خو د خدای په قهر ککړ وي، تاسې هم ځان غوندې کوي. نو ډېر پام کوئ، دې خلکو ته گورئ او مه یې پرېږدئ چې ستاسې د بري پلانونه درته گډ وډ کړي.

یوه ځوان راته څه وخت مخکې د خپل کار بدلولو کیسه کوله، ویل یې:

(له یوه بدبینه انسان سره مخ شوی وم، ایله یې زړه خوړ، لگیا به و چې: له څه بېکاره شرکت سره کار کوو.) له کشره نیولې تر مشره په ټولو یې خوله را پرانیستې وه، گیلې مانې یې کولې، په ټولو بدگومانه و. زموږ پلورلي توکي هم ښه نه وو. هره پالیسۍ ورته بده ښکارېده. د ده په نظر هر څه یوه ستونزه لرله.

هره ورځ به سترې کار ته تلم او راتلم. هره شپه به د ده له لاسه خپه کور ته راتلم، د ورځې به چې هر څه وران شوي وو، د ټولو په اړه به راته پنځه څلوېښت دقیقې غږېده. اخر مې نیت وکړ چې د موټر جوړولو یوه شرکت ته لاړ شم. اوس مې حالت بیخي بدل شوی دی، ځکه له داسې خلکو سره یم، چې د ستونزې دواړه اړخونه گوري.)

**دوام لري...**

# نیوزیلنډ

حشمت نوري



نیوزیلنډ په استرالیا کې په جنوبي ارام سمندر کې د تاسماني او استرالیا په ختیځه خوا کې د ختیځ طول البلدونو د ۱٦٦ او ۱۷۹ درجو او د جنوبي عرض البلدونو د ۳۴ او ۴۸ درجو په منځ کې موقعیت لري. د نیوزیلنډ ټول پراخوالی ۱۰۳۳۳٦۳میل مربع ته رسېږي، چې له دې پلوه د نړۍ ٦۸ م لوی هېواد دی. نیوزیلنډ په وچه کې له بل هېواد سره گډه پوله نه لري، خو په ارام سمندر کې د دغه هېواد نږدې گاونډیان دا دي: ختیځ ته یې جنوبي ارام سندر، لوېدیځ ته یې د استرالیا تر ټولو جنوبي ټاپو تاسماني، شمال ته یې د فیجي او وانواتو او جنوب ته یې د استرالیا او کومبل ټاپوگان پراته دي.

د نیوزیلنډ هوا د سمندري موقعیت له امله ډېره لنده ده، د دغه هېواد اقلیم په عمومي توگه ښه دی، خو جنوب لور ته یې د هوا تودوالی کمېږي. د دغه هېواد د جگو غرنیو سیمو هوا داسې سړه ده، چې ځای ځای دایمي کنگلونه هم لري.

د دغه هېواد پلازمېنه ولنگتون ښار دی او نفوس یې څه کم پنځو میلیونو کسانو ته رسېږي، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې پنځه کسان ژوند کوي.

د نیوزیلنډ ۹۰ سلنه وگړي په ښارونو او لس سلنه یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي، چې د دغه هېواد د قانون له مخې یې هر کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دریو ماشومانو د درلودو حق لري.

د دغه هېواد رسمي ژبه انگلیسي او نیوزیلنډي ده، خو لیکدود یې بیا لاتیني دی.

نیوزیلنډ د اداري وېش له مخې پر ۹۳ ټولنو او نهو ولسوالیو او دریو ښاري ولسوالیو وېشل شوی و، خو په ۲۰۰۱ ز کال کې پر ۱٦ سیمو او یوه ښار ووېشل شو.

کایتای هنتي، هاملتون، تیکویتي، ماسترونون، شمالي پالمرستون، وایراري، ایبوري او روکسبورگ یې مهم او گڼ نفوسه ښارونه دي.

پاچاهي په نیوزیلنډ کې میراثي ده او گورنر جنرال د انگلستان د ملکې په خوښه، د پاچا له خوا ټاکل کېږي. د نیوزیلنډ لومړی وزیر د گورنر جنرال له خوا غوره کېږي. دا کس معمولاً د هغه گوند یا ائتلاف مشر وي، چې په ولسي جرگه کې ډېرې رایې وگټي. د نیوزیلنډ د لومړي وزیر مرستیال او د کابینې وزیران د گورنر جنرال له خوا د لومړي وزیر په مشوره ټاکل کېږي او درې کاله کار کوي.

د نیوزیلنډ ولسي جرگه ۱۲۰ غړي لري، چې ۷۰ یې د خلکو په خوښه د دریو کلونو لپاره ټاکل کېږي. له دې ډلې اووه کسان د ماوري ټولنې استازیتوب کوي. د نیوزیلنډ د ولسي جرگې پاتې ۵۰ غړي د گوندونو فعالین وي، چې د گوندونو له خوا د رایو په اساس ټاکل کېږي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.

د نیوزیلنډ قضایي نظام پر انگلیسي قوانینو ولاړ دی. ستره محکمه، عالي محکمه او د استیناف محکمه د دغه هېواد تر ټولو لوړ قضایي ارگانونه دي، چې قاضیان یې د گورنر جنرال له خوا ټاکل کېږي. په نیوزیلنډ کې مانوري د خپلو ځمکو د مالکیت لپاره جلا قوانین او محکمې لري.

یو موتي نیوزیلنډ گوند، د نیوزیلنډ کارگر گوند، د نیوزیلنډ ملي گوند، د نیوزیلنډ لومړنی گوند او د جیم اندرسن پرمختیا غوښتونکی گوند د دغه هېواد مهم او نفوذ لرونکي گوندونه دي.

نیوزیلنډ د ۱۹۰۷ ز کال د سپټمر په ۲٦مه له انگلستان څخه خپلواکي واخیسته.

له ۱۹۸۴ ز کال را پدېخوا، د نیوزیلنډ دولت د خپل اقتصاد په بنسټیز جوړښت کې ډېر بدلون راوست. ځمکې یې ووېشلې او خپل اقتصاد یې انگلستان ته د ترجیحي سیاست د تگلارې پر ځای، د صنعتي کېدلو ازاد مارکېټ او نړیوالې سیالۍ ته وهڅاوه. دغه گړندي خوځښت نیوزیلنډ له یوه کرنیزه هېواد څخه پر داسې یو صنعتي هېواد بدل کړ، چې اوس په نړیوالو بازارونو کې سیالي کولای شي. له دې سره د دغه هېواد عواید زیات شول او د صنعتي سکټور ټکنالوژیکي وړتیا یې د څومره والي او څرنگوالي له اړخه ډېره اوچته کړه. د نیوزیلنډ د انفلاسیون اندازه د نړۍ د صنعتي هېوادونو په منځ کې تر ټولو ټیټه ده او د سړي سرکلني عاید د کچې له مخې، ځان د اروپا د ډېرو پرمختللو هېوادونو له عاید سره برابروي.

د کانونو ایستل او د کانونو د ایستنې وسایل، د خوراکي توکو پروسس، د اوبو برېښنا، ټایر، فلزي شیان، لرگي، موبلایل او فرنیچر، نقلیه وسایط، ټوکران او د نساجو ماشینونه، سیمنټ، کیمیاوي سره، د تیلو او گازو چاڼ، کاغذ، برېښنایي سامان، استهلاکي شیان او دارودرمل د دغه هېواد مهم صنعتي فکټورونه دي.

د نیوزیلنډ شپږ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده، چې شپږ سلنه یې همدا اوس کرل کېږي. د دغه هېواد پاتې نوره ځمکه څړځایونو، ځنگلونو، غرونو، سیندونو، ښارونو او د استوگنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د نیوزیلنډ اته سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد پنځه سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدغه سکټور څخه لاس ته راځي. لرگي، تنباکو، غنم، وربشې، کچالو، مې او نور حبوبات، پنبه، مېوې، سابه، غوښه، هگۍ، لبنیات او واښه د نیوزیلنډ د کرنې او څارویو مهم محصولات بلل کېږي.

سره له دې چې انگلیسانو د خپلې واکمنۍ په موده کې، د دغه هېواد ډېرې کاني زېرمې تشې کړې دي، خو بیا هم دغه هېواد د پام وړطبیعي گاز، اومه اوسپنه، د ډېرو سکاره، مگنیزیم، سره او سپین زر لري.

د نیوزیلنډ غټ تجارتي شریکان، استرالیا، امریکا، جاپان، چین او سنگاپور دي.

دغه هېواد ۱۲۵ هوایي ډگرونه لري، چې ۵۰ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. د نیوزیلنډ د ټلیفون کود ۰۰٦۴ او د انټرنټ کود یې NZ دی، چې ټول ټال یې څلور میلیونه کسان انټرنټ ته لاسرسی لري.

د نیوزیلنډ د راډیو ټلوېزیون دولتي سکټور، ډېر ټلوېزیوني چینلونه، درې ملي راډیو گانې او ځانگړي سوداگریز ټلوېزیونونه لري، چې په انگلیسي او نورو ژبو خپروني کوي او د دې ترڅنگ، په دغه هېواد کې ۳۰ ورځپاڼې او ۱۵۰ اونیزې، میاشتنۍ او مهالنۍ شته. په دغه هېواد کې هر کال ۲۵۰۰ عنوانه نوي کتابونه خپرېږي او هر سړی په کال کې په منځنۍ توگه ۵۳ کیلوگرامه کاغذ د لیک لوست لپاره کاروي، چې په نړۍ کې لوړ رقم دی.

نیوزیلنډ د استرالیا او نړۍ له شتمنو هېوادونو څخه دی. د دغه هېواد له ۱۵ کلنو څخه پورته سل سلنه خلک نارینه او ښځې دواړه په لیک او لوست پوهېږي. په دغه هېواد کې زده کړه له ٦-۱۴ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره جبري ده.

مائورمان چې پولي نیزیایي تبره دي، په نهمه پېړۍ کې په دغو ټاپوگانو کې، چې اوس نیوزیلنډ نومېږي، مېشت شول. مورخین مائوریان د نیوزیلنډ پخواني او اصلي اوسېدونکي بولي، دا ټاپوگان په ۱٦۴۲ ز کال کې د هالنډي نامتو سمندري سیلاني، ابل جانسن تاسماني په واسطه وپېژندل شول. نومړی لومړی د اوسني نیوزیلنډ جنوبي ټاپو ته ورسېد او دا ځای یې د خپل ټاټوبي په یاد زیلند یا نیوزیلنډ ونوماوه، خو د مائوریانو د کلک مخالفت له امله، له خپلې بېړۍ څخه پلی هم نه شو.

نړیوالو هغه وخت د تاسماني پېژندنه ډېره جدي ونه گڼله، په ۱۹۷۰ ز کال کې د انگلستان کپټان جیمز کوک دغو ټاپو گانو ته ولاړ، کوک د نیوزیلنډ د شمالي او جنوبي ټاپوگانو له معبر څخه تېر شو، هغه یې په خپل نامه ونومول او د اوسني نیوزیلنډ ساحلي څنډې یې ولیدې. کوک د نیوزیلنډ د ناپېژندلې، خو شتمنې سیمې ورونه اروپایانو ته پرانیستل. له دې وروسته دغو ټاپوگانو ته د انگلیسانو مهاجرت پیل شو. هغه لومړني انگلیسان چې دغو ټاپو گانو ته ورسېدل، د نهنگانو ښکارزن او نور سوداگر وو. دا وخت ځینې هغه استرالیایان چې له عسکري خدمت یا زندانونو څخه تښتېدلي وو، هم په نیوزیلنډ کې مېشت شول او هلته یې کورونه جوړ کړل. د ۱۹مې پېړۍ په پیل کې نور انگلیسي مهاجر هم د نیوزیلنډ ټاپوگانو ته ورسېدل او هلته یې خپلې مېنې جوړې کړې. په ۱۸۱۴ ز کال کې انگلیسانو د مسیحي دین د خورولو لومړنۍ ډله نیوزیلنډ ته واستوله. دغو مبلغینو او انگلیسي مهاجرینو د نیوزیلنډ د بومي اوسېدونکو پر ژوند ژور اغېز وکړ او هغوی یې بدلون ته چمتو کړل.

په ۱۹۰۷ ز کال کې نیوزیلنډ خپلواکه شو، انگلستان دا خپلواکي په رسمیت وپېژندله او گورنر جنرال د انگلستان د پاچا د استازي په توگه دلته مقرر شو.

د افغانستان او نیوزیلنډ تر منځ اړیکې ډېره سابقه نه لري او داسې ښکاري، چې د سپټمبر له ۱۱ مې وروسته، د نیوزیلنډ حکومت تیاری وښود، چې د اړیکو د جوړولو لپاره لاس په کار شي. د دغه هېواد چارواکو له افغانستانه لیدنه وکړه او له افغان حکومت سره د همکارۍ ژمنه یې وکړه.

له افغانستان څخه تر نیوزیلنډ پورې د هوا له لارې فاصله ۱۳۷۱۵ کیلومترو ته رسېږي او همدارنگه د کابل او ولنگتون ښارونو تر منځ د وخت توپیر ۸:۳۰ ساعته دی.

همیانی

# څنګه په کم وخت کې ډېر کار وکړو؟

ژباړه: امان الله«حنيفي»

تمرکز نه لرى، تل مو فکر يوه خوا بله خوا وي، له کار څخه ژر ستړي کېږى، ساعتونه ساعتونه وخت همداسې بې ځايه ضايع کوى، که هر څومره درته ستړي کوونکى او بې ګټې هم وي، خو بيا هم د نورو سيل کوى. له دې سره سره ټول پوهېږى، که مو لږ تمرکز راټول کړى، هرڅه به مو سم شي.

که يوه شېبه هم دقت وکړى، که مو د کم وخت لپاره حواس کنټرول او پر يوڅه يې راټول کړى، کولاى شى په يوه وخت کې ډېر کارونه وکړى.

موږ په همدې مقاله کې درته هغه لارې ښيو، چې په عملي کولو سره يې کولاى شى، په کم وخت کې ډېر کار وکړى:

**۱-له کاري چاپېريال سره مو ځان عيار کړئ**

يو ښه او ارام کاري چاپېريال تر هغه، چې تاسې يې په اړه فکر کوى، ډېر ارزښت لري. څېړنې ښيي، که چېرې ستاسې کاري چاپېريال ښه همغږې ولري، ستاسې وړتياوې هم ورسره لوړېږي. له دې سره سره، کولاى شى ښه احساس ولرى او د ډېر وخت لپاره مو پر يو کار تمرکز وساتى.

له کاري ميز نه مو پيل وکړئ، ايا هغه څوکۍ چې تاسې پر ناست ياستئ، تاسې په کې راحت ياستئ؟ ملا خو به مو درد نه په کې کوي؟ ستاسې کاري چاپېريال بايد مناسبه روښنايي ولري او د هوا ګرموالي او سوړوالي يې هم بايد په مناسبه اندازه برابر وي. که مو ټوله ورځ په کاري دفتر کې تېرېږي، ښه ده چې هرڅه يې داسې برابر کړى، چې تاسې ترې خوند واخلى.

کاري چاپېريال بايد الهام ورکوونکى وي او تاسې ته يوه انګېزه درکړي. په کاري چاپېريال کې د سټرېس کموالى د دې باعث کېږي، چې تاسې نوې پنځونې وکړى او ورځ تر بلې مو کار په ښه ډول سرته ورسوى.

هڅه وکړئ چې په کاري چاپېريال کې هغه عوامل چې ستاسې وخت ضايع کوي، بېخي کم او د صفر درجې ته راورسوئ.

د بېلګې په ډول، که مو کوم همکار هره دقيقه ستاسې خوا ته راځي او له تاسې سره خبرې کوي، ښه ده چې هغه ته د خپل کار د ډېروالي په اړه ووايئ، وښيئ! کار مې پاتې دى، که زه دغه کار وکړم، ښه به وي. له هغو ملګرو چې ستاسې کاري وخت ضايع کوي، هيله وکړى چې دا خبرې به د ډوډۍ خوړلو په وخت کې وکړو. که دغه همکار مو داسې کس وي، چې ډېر وخت پوښتنې کوي، ښه ده چې په اونۍ کې يوه ورځ او يو ساعت ورته وټاکئ او د هغه ستونزې چې په وس مو پوره وي، حل کړئ.

مخکې له دې چې پر کار مو پيل وکړى، ښه ده چې ټول ضروري توکي مو له ځان سره ولرى. کله چې د کار پر مهال د کتاب او يا هم د کمپيوټر د چارجر لپاره ولاړېږى، هم مو تمرکز له منځه ځي او هم مو هغه د کار خوند چې تاسې پرې پيل کړى، مات مات کېږي. مانا دا چې بيا ستاسې هغه لومړۍ جذبه نه پاتې کېږي.

**۲- له خپلو وړتياوو سره سم مو کاري پلان جوړ کړئ**

تر اوسه مو دا معلومه کړې، چې د ورځې په اوږدو کې مو د انرژۍ کچه څومره ښکته او پورته کېږي؟ موږ ټول د ورځې په اوږدو کې ځينې داسې ساعتونه لرو، چې په هغه کې د پاتې ورځې په پرتله ډېره انرژي لرو. خو ځينې بيا داسې ساعتونه هم لرو، چې په هغه کې تر ټولو ستړي او مات احساس کوو.

دا مو خوښېږي چې په کم وخت کې ډېر او په ښه کيفيت سره کار ترسره کړى؟ که مو خوښېږي، پر همدې موخه او پلان مو کار وکړئ، چې په کم وخت کې ډېر او په ښه کيفيت کار وکړئ. د ورځې هغه ساعتونه چې تاسې د پاتې ورځې په پرتله په کې د پوره انرژۍ احساس لرى، هغو کارونو ته ځانګړي کړى، چې ډېر دقت او تمرکز ته اړتيا لري.

د هغو ساعتونو په اړه چې تاسې په کې ستړي احساس کوى، څو دقيقې فکر وکړئ. اوبه وڅښئ، له کار ځايه مو پاڅېږئ او څو قدمونه واخلئ.

**۳- بې ارزښته کارونه نور مه کوئ**

ټول کارونه يو شان نه دي، ځينې کارونه مهم او ډېر ارزښت لري، تاسې بايد پر هغه ډېر تمرکز وکړئ. ځينې کارونه بيا ډېر ارزښت نه لري او که لري يې هم، له ډېر وخت وروسته يې پايله په لاس راځي، ښه ده چې پر ځاى يې د مهمو او ژر لاسته راتلونکو پايلو پر کارونو تمرکز وکړئ.

د دې لپاره چې ځانونه له دغو بې ارزښته کارونو څخه خلاص کړى، اول بايد دا ځان ته معلومه کړئ چې ستاسې وخت په څه څه تېرېږي. يو. دوې اونۍ مو د دفتر د کاري لايحې مطابق کار وکړئ، پايلو ته يې ښه دقت وکړئ او معلومه کړئ چې تاسې ډېر وخت په څه کې مصرف کړى دى؟ کوم کارونه مو د دې باعث شوي، چې هم د دفتر او هم خپلو شخصي موخو پر لور حرکت وکړى؟

که نه شى کولاى چې کوم کارونه مو تر ټولو مهم او ارزښت لرونکي دي، د کارونو له ډله بندي کولو څخه استفاده وکړئ. دا ډله بندي کولاى شي له تاسې سره د مهمو او ارزښت لرونکو کارونو په تشخيص کې مرسته وکړي.

تاسې به په همدغه د کارونو ډله بندي کولو کې داسې کارونه هم پيدا کړى، چې چنداني ارزښت به نه لري، خو مهمه ده چې سرته يې ورسوى. دا ډول کارونه کولاى شى يو بل ملګري ته وسپارئ. که مو وليده چې دغه کار سخت دى، ښه ده چې په اړه يې بيا فکر وکړئ، چې ښه، تاسې يې سرته ورسوى او که يې بل چا ته وسپارى.

## بلخي: ترکيې او يونان ژمنه کړې چې افغان کډوال به په زور له خپلو هېوادونو نه وباسي



د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزير ويلي، چې ترکيې او يوناني چارواکو ورسره په يادو هېوادونو کې د افغان کډوالو د ستونزو د هوارې ژمنې کړې دي.

د کډوالو چارو وزير سيد حسين عالمي بلخي تېره ورځ په کابل کې يوې خبري ناستې ته ويلي، چې ترکيې او يونان ته يې د خپل سفر پرمهال د يادو هېوادونو له چارواکو سره د افغان کډوالو د ستونزو د هوارې په اړه خبرې کړې دي.

نوموړي زياته کړې: «هغه کډوال چې له ايرانه ترکيې او يا نورو ځايونو ته لېږدول کېږي، دوى قربانيان دي او موږ بايد د قربانيانو پر وړاندې د مبارزې پر ځاى، چې له مرګه د تېښتې لپاره نورو هېوادونو ته پنا وړي، د قاچاقبرانو پر وړاندې مبارزه وکړو. ما هلته دا ټينګار وکړ چې افغانستان لا هم يو ناامنه هېواد دى او هغه خلک چې دغو هېوادونو ته ځي، دا په دې معنا نه ده چې دوى يو ارام ژوند پرېږدي او کډوالۍ ته زړه ښه کوي.»

نوموړي د ايران، ترکيې او روسيې له لارې اروپايي هېوادونو ته د تلونکو افغان کډوالو د شمېر د کموالي خبره هم کړې، خو دقيق ارقام يې نه دي وړاندې کړي.

بلخي زياته کړې، چې په ټوله کې له ياد مسيره د يوه کال په موده کې ۱۷۰ زره کډوال له بېلابېلو هېوادونو اروپا ته تللي، چې زيات شمېر افغان کډوال هم پکې شامل دي.

دا په داسې حال کې ده چې زياتره هغه افغان کډوال چې غواړي ځانونه اروپا ته ورسوي، له ايران، ترکيې او يونان څخه د ټرانزيټ په توګه استفاده کوي.

هغه افغان کډوال چې په يادو هېوادونو کې مېشت دي، تل يې د امکاناتو له نشتوالي او له دوى سره د ناوړه وضعيت له امله شکايتونه کړي دي.

دا په داسې حال کې ده چې افغان چارواکو بيا بيا په بهرنيو هېوادونو کې د مېشتو افغان کډوالو د ستونزو د هوارې او اړوندو هېوادونو په دې برخه کې د همکارۍ ژمنې کړې، خو د نړيوالو چارو کارپوه داوود مايار ويلي، چې د هېوادونو مشران يوازې ژمنې کوي او په عمل کې هېڅ هم نشته. مايار ويلي چې ځينې هېوادونه د مهاجرت له موضوع څخه د سياسي وسيلې په توګه کار اخلي.

هغه زياته کړې: «زما په اند دوى تر هغه حده پورې دا مسايل عملي کوي، چې د دوى سياسي ګټې ورسره نغښتې وي او يا سياسي اړخ يې داسې وي چې کله دوى وغواړي د افغانستان حکومت ته وښيي، چې دا دى موږ له تاسو سره ښې اړيکې لرو، نو بيا هلته کډوالو ته يوه اندازه اسانتياوې برابروي».

## دانش: د افغان خبريالانو پر وړاندې د تاوتريخوالي راپور ټکان ورکوونکى دى



تېره ورځ په افغانستان کې د خبريالانو ملي ورځ په داسې مهال ونمانځل شوه، چې د دوى پر وړاندې د هدفي وژنو او اختطاف په ګډون د تاوتريخوالي پېښې مخ په ډېرېدو دي.

د ولسمشرۍ مانۍ دويم مرستيال سرور دانش هم په روان لمريز کال کې د افغان خبريالانو پر وړاندې د تاوتريخوالي راپور ټکان ورکوونکى بللى او د دوى پر خونديتوب يې ټينګار کړى دى.

نوموړي تېره ورځ د خبريالانو ورځې په تړاو جوړې شوې ناستې ته ويلي: «کوم راپور چې خپور شوى، په رښتيا چې ډېر زړه بوږنوونکى دى. د ډېرې خواشينۍ ځاى دى چې لږ تر لږه ۱۸ خبريالان وژل شوي، خو بايد د خبريالانو ورځې نه په الهام د خبريالانو د خونديتوب لپاره د دوى وضعيت ته جدي پام وشي.»

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د خبريالانو مرکز، موندنې ښيي چې په ۱۳۹۷ لمريز کال کې د خبريالانو پر وړاندې د تاوتريخوالي ۹۲ پېښې ثبت شوې دي.

دغه مرکز ويلي چې په روان کال کې د ډول ډول تاوتريخوالي له امله ۱۸ خبريالان او دوه د رسنيو کارکوونکي وژل شوي دي. راپور دغه راز ښيي چې سږ کال د خبريالانو هدفي وژنې ډېرې وې.

د خبريالانو د مرکز په راپور کې وړاندې ويل شوي، چې ۱۳ خبريالان د داعش ډلې، پنځه د نامسووله وسله والو ډلو او دوه هم د وسله والو طالبانو له لوري وژل شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې مخکې د ژورنالېستانو نړيوال فدراسيون ويلي وو، چې په ۲۰۱۸ ز کال کې په هدفي وژنو، بمي چاودنو او جګړو کې ۹۴ ژورنالېستان او د رسنيو کارکوونکي وژل شوي دي.

بلخوا د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي تداميچي ياماموتو بيا ويلي: «د بيان ازادي د يوې ټولنې له اساسي حقوقو شمېرل کېږي، همدارنګه ازادې رسنۍ د يوې ټولنې د ازاديو او حقوقو انعکاس ورکوونکې دي. په خبريالانو او د رسنيو په کارکوونکو حملې په ملکي وګړو حمله ده، چې يو لوى جنايت دى.»

دغه راز ځينې افغان خبريالان په داسې حال کې چې د خبريالانو د مرکز تازه راپور د اندېښنې وړ بولي، ويلي چې د خبريالانو پر وړاندې د تاوتريخوالي د پېښو ارقام تر دې لوړ دي.

که څه هم له تېرو ۱۵ کلونو راهيسې افغان خبريالان او رسنۍ د زور زياتي کوونکو د معافيت له امله ځورېدلي، خو دوى وايي چې له دغه ناوړه فرهنګ سره مبارزې ته ژمن دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۶۰ |
| € | ۸۵,۵۰ |
| Rp. | ۵۴۱ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۹,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - دوبی | 20:45 |
| کابل - ډهلي | 10:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسير ورځپاڼه

**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزى
**ايډيټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** محمد نظيم سمون، جاويد کوټوال او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!



flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

سه شنبه د ۱۳۹۷ د کب ۲۸مه | د ۲۰۱۹ د مارچ ۱۹مه | دویم کال | ۳۵۳مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | ۱۶ | ۲۰ | ۲۱ | ۱۹ | ۱۸ |
| ۱ | ۵ | ۷ | ۱۰ | ۱۱ | ۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۲۱ | لمر ختل ۰٥:٤۳ | ماسپښین ۱۱:٤٥ | مازیګر ۰٤:۰۲ | ماښام ۰٥:٤٥ | ماخوستن ۰۷:۰۹

## نړۍ




### په هالنډ کې یوه مشکوک کس لسګونو تنو ته مرګ ژوبله اړولې ده



د هالنډ پولیسو ویلي، د دغه هېواد په اوترخت ښار کې په یوه رېل ګاډي کې د یوه مشکوک کس په ډزو کې، درې تنه وژل شوي او ډېر نور ټپیان شوي دي.

پولیسو ویلي، دا یو ترهګریز برید و چې ۳۷ کلن ترک توکمه ګوکمېن تانیس کړی او دوی یې د نیولو لپاره هڅې پیل کړې دي.

د پولیسو یوه ویاند ویلي چې ګوکمېن تانیس له ډزو وروسته له سیمې په یوه موټر کې تښتېدلی دی، خو پولیسو سیمه کلابنده کړې ده.

د دغه هېواد چارواکو ښوونځیو ته امر کړی، چې دروازې بندې وساتي، ځکه ګومان کېږي چې بریدکوونکی اوس هم ازاد ګرځي.

دغه برید د اکتوبر پلېن ۲۴ په نامه د ښار منځ رېل په یوه تمځای کې شوی، خو پوره څرنګوالی یې تر اوسه نه دی معلوم شوی.

د هالنډ لومړي وزیر مارک روټې هم ویلي، چې حکومت یې بېړنۍ ناسته کړې. تر پېښې څو شېبې وروسته د دغه هېواد پولیسو د هوایي ډګرونو شاوخوا امنیت زیات کړی دی.

### روحاني: د واشنګټن د بندیزونو پر خلاف حقوقي قضیه ثبتوو



د ایران ولسمشر حسن روحاني ویلي، هېواد یې د واشنګټن د بندیزونو پر خلاف حقوقي قضیه ثبتوي.

نوموړي چې تېره ورځ یې په یوه رسمي غونډه کې خبرې کولې ویلي، چې د متحده ایالتونو دغو بندیزونو یوازې د ایران خلک په نښه کړي دي.

روحاني په دې اړه ویلي: «نړۍ دې پوهه شي، امریکا چې کوم کار کړی، د ایران د حکومت پرخلاف نه و، نه د ایران د اټومي ټکنالوژۍ پر ضد و، بلکې د ایران د خلکو، د خلکو د ژوند د چاپېریال د خوندیتوب او د خلکو د عادي ژوند پر ضد و».

روحاني دغه څرګندونې په داسې حال کې کوي، چې امریکا د تېر کال په مې میاشت کې د ایران او د نړۍ د شپږو قدرتونو ترمنځ له اټومي تړونه ووته او بېرته یې پر دغه هېواد بندیزونه ولګول، چې ویل کېږي د دغه هېواد اقتصاد ته یې سخته ضربه ورکړې او په ایران کې یې د کاروبار شرایط له ستونزو سره مخ کړي دي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو یو ځل بیا ټینګار کړی، چې دوی ژمن دي چې د ایران تېلو صادرات تر صفر پورې راټیټ کړي.

### غني: امارات متحده و آذربایجان حاضر اند که برخی محصولات افغانستان را خریداری کنند




رئیس جمهور غنی می گوید، که امارات متحدهٔ عربی حاضر است زعفران و آذربایجان بادام، انگور و پیاز افغانستان راخریداری کنند.

در خبرنامه ای که به رسانه‌ها رسیده است، گفته شده است که محمداشرف غنی رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در جریان سفرش به امارات متحدهٔ عربی، با تاجران افغان مقیم آن کشور دیدار و مشکلات و پیشنهادات آنان را استماع نمود.

در این دیدار، داکتر محمدهمایون قیومی سرپرست وزارت مالیهٔ کشور همچنان در رابطه به برنامه‌های انکشافی و تجاری حکومت، به تاجران افغان معلومات داده و گفته است که وزارت مالیه در هماهنگی و همکاری با رؤسای گمرکات افغانستان، چالش‌های عمدهٔ بنادر و گمرکات کشور را مشخص نموده اند و به این مشکلات رسیدگی صورت می گیرد.

داکتر قیومی افزود که به اساس هدایت رئیس جمهور، برنامهٔ سرمایه‌گذاری در عرصه‌های زراعت، معادن، انرژی و تجارت روی‌دست گرفته شده است و این بهترین فرصت برای تاجران افغان می‌باشد.

سپس، محمداشرف غنی رئیس جمهور کشور صحبت کرد و از تلاش‌های تاجران به‌خاطر نقش فعال آنان در افزایش صادرات افغانستان قدردانی نمود. وی افزود: «در دیداری که با شیخ محمد بن زاید آل نهیان ولیعهد ابوظبی داشتم، موصوف وعده سپرد که زعفران افغانستان را امارات متحدهٔ عربی خریداری می‌کند». وی افزود که آذربایجان نیز حاضر است تا بادام، انگور و پیاز افغانستان را خریداری نماید. رئیس جمهور غنی از تاجران افغان مقیم امارات متحدهٔ عربی خواست تا با استفاده از فرصت‌های که در بازارهای جهانی، به‌خصوص در بازارهای امارات متحدهٔ عربی برای محصولات افغانستان ایجاد شده است، سرمایه‌گذاری کنند و هدف واضح برای صادرات تعیین نمایند. رئیس جمهور غنی گفته است که بحران بانکداری را سکتور خصوصی ایجاد کرده است، نه دولت و سوء استفاده باعث گردیده است تا بانک‌ها در کشور ضعیف شوند. وی افزود که بررسی در این خصوص از سوی کمپنی معتبر بین‌المللی ضروری می‌باشد و به سرپرست وزارت مالیه هدایت داد که روی میکانیزم استخدام چنین کمپنی کار نماید.


## ژوند

### د نعنا د چای درملیزې ګټې!



د نعنا چای په ښه خوند او بوی سربېره، د روغتیا لپاره ډېرې ګټې هم لري، چې د سر له وېښتانو نیولې د پښو تر ګوتو پورې مو د وجود هر غړي ته د پام وړ ګټه رسوي. دغه خوندور چای پر روغتیا او ښایست سربېره، د سترېس له کموالي سره هم مرسته کوي. دغه چای چې د نعنا له پاڼو جوړېږي، د نور معمولي چای برعکس کافیین هم نه لري، نو هغه کسان چې د بې خوبۍ ستونزه لري، کولی شي په ډاډه زړه یې له خوبه مخکې هم وڅښي. دا چې ډېر ښه خوند او بوی لري، نو نن سبا یې د نړۍ د تر ټولو ښه چای ځای هم خپل کړی دی. دغه چای وزن کموي، بې خوبي له منځه وړي، تمرکز مو پیاوړی کوي، تنفسي ناروغۍ له منځه وړي، تبه پرې کوي، د ناروغیو پر وړاندې د بدن مقاومت لوړوي او د معدې دردونه او میکروب له منځه وړي. څه ډول چې دغه چای ګټې لري، نو ځینې جانبي عوارض هم لري. کېدای شي ځینې کسان یې له څښلو سره حساسیت ولري.

### ماشوم او په کور کې کار!



میندې او پلرونه هڅه کوي چې په کارپوه ماشوم وروزي، څو په راتلونکي کې هم د خپلې ټولنې پر وړاندې خپل مسوولیت په پوره غور او دقت سره ترسره کړي او هم د خپلې کورنۍ لپاره یو وياړلی کس وي. د ماشومانو مسوولیت لومړی له خپل کوره پیلېږي. کله چې ماشوم داسې وروزل شي چې په خپله کورنۍ کې خپل کار او مسوولیت پر خپل وخت او مناسب ډول ترسره کړي، نو هغه ده چې بیا په ټولنه کې هم خپل مسوولیت په سم او مناسب ډول ترسره کولای شي. له نن څخه نږدې ۵۰۰ کاله مخکې دغه څه د ماشومانو په برخه کې پیل شوي دي، چې ماشومان لومړی باید د کار زده کول په خپله کورنۍ کې زده کړي، چې په اسیایي او افریقایي هېوادونو کې اوس هم دغه څه د یوه دود په توګه پاتې شوي دي. دا ځکه چې د دغو هېوادونو په لرو پرتو سیمو کې ډېری خلک پر کرنه او مالدارۍ بوخت دي، نو له هماغه کوچني‌والي څخه ماشومان له خپلو پلرونو سره د کور او یا هم د ځمکو په کارونو کې پر کار بوخت وي. په ډېرو کورنیو کې پر ماشومانو باندې د هغوی له وس سره سم کارونه کول، د یوه سنت په ډول پاتې شوي دي. دغه څه له ماشوم سره مرسته کوي، څو له یوې خوا په راتلونکي کې ورڅخه یو مسوولیت منونکی کس جوړ شي او له بلې خوا د خپل مور او پلار دمه هم یوڅه پرې جوړه شي.